ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت پنځلس ورځنۍ
ګڼه: ۱۰ | مسلسل نمبر: ۱۴۸
چهارشنبه، صفرالظفر ۱۴، ۱۴۴۸هـ.ق کال

# اباديِ
پنځلس ورځنۍ

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له ښاغلي جمشيد خواجه‌يف سره وليدل



۲ صفحه

## د سوداګرۍ پراختيا لپاره د شيرخان بندر ظرفيت لوړيږي



۲مه صفحه

## عزيزي انرژي شرکت د لس زره ميګاواټه برېښنا د توليد لپاره ټول تخنيکي وسايل پېرلي



۳مه صفحه



## سرليکنه

ندارتونونه د اقتصادي بازار په پراختيا کې ډېر اهميت لري.
د ندارتونونو په جوړېدو سره د هېواد په صادراتو کې زياتوالی راځي، ځکه د ندارتونونو له لارې توليدات او محصولات پانګوالو، سوداګرو او عامو خلکو ته معرفي کېږي او دا د دې لامل ګرځي چې د يادو توليداتو او محصولاتو له پاره بازار پيدا او په لوړه کچه وپلورل شي. اسلامي امارت د ندارتونونو اهميت ته په کتو د بېلا بېلو توليداتو او محصولاتو د معرفي کېدو له پاره ندارتونونه جوړ کړي دي.

د ۱۴۰۵ کال د اسد مياشتې په خلورمه د لومړي ځل له پاره د مخابراتو او ټکنالوژۍ ندارتون جوړ شو. دغه ندارتون د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانيستل شو. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د ياد ندارتون په پرانيستغونډه کې وويل، په اوسني عصر کې د ټکنالوژۍ پرمختګ او د اړيکو د ټينګولو وسايل د هېوادونو د مهمو لومړيتوبونو په سر کې قرار لري او دې پرمختګ د نړۍ د سيالۍ ډګر ګرم ساتلی دی. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، د عصر د غوښتنې مطابق د ټکنالوژۍ او مخابراتو په برخه کې پرمختګ کول زموږ مسووليت دی او د افغانستان اسلامي امارت غواړي چې په تدريجي توګه له خپلو موجوده امکاناتو څخه په ګټه اخيستنې ځان په دې برخه کې له سيمې او نړۍ سره سيال کړي. دا يو واقعيت دی چې په نننۍ نړۍ کې د هرې برخې په ځانګړي ډول اقتصادي پرمختګ په ټکنالوژۍ پورې تړلی دی، ځکه بشري پرمختګ او لاسته راوړنې د تخنيکي مهارتونو په اساس رامنځته شوي دي. له صنعتي انقلاب څخه وروسته د نړۍ په مختلفو سيمو کې اختراعات لکه د بخار ماشين، د حمل او نقل وسايل، سمندري لارې او هوايي کرښې رامنځته او د وخت په تيرېدو په دې برخو کې ټکنالوژيکي بدلونونه راغلل. يو شمېر هېوادونو د همدې وسايلو پر مټ زيات اقتصادي پرمختګ وکړ او ځينې نور بيا د بېلا بېلو لاملونو له امله ونه توانيدل چې خپل اقتصاد ته پرمختيا ورکړي. د شلمې پېړۍ په اوږدو کې بيا ټکنالوژۍ دومره پرمختګ وکړ چې بشر يې د ژوند يو نوي پړاو ته داخل کړ. د ټکنالوژۍ په برکت تخنيکي وسايلو نور هم پرمختګ وکړ او له دې سره جوخت په بېلا بېلو سکتورونو کې تحول رامنځته شو. د چټک ټرانسپورټ په رامنځته کېدو سره سوداګرۍ وده وکړه او په خوا کې يې کمپيوټر، انټرنيټ او نورو ارتباطي وسايلو دومره اسانتياوې رامنځته کړې چې په اسانۍ سره يې تصور هم ګران کار دی. دا مهال د ټکنالوژيکي پرمختګونو پر بنسټ که د کرنې سکتور دی، يا هم د صنعت، زده کړې، سوداګرۍ او نور ټول د پرمختګ پړاوو ته داخل شوي دي. په لنډ ډول که ووايو چې ټکنالوژۍ د اقتصادي پرمختګ په برخه کې چټک تحول رامنځته کړی او اوس داسې ښکاري چې له ټکنالوژۍ پرته اقتصادي پرمختګ ناشونی ښکاري.

د افغانستان اسلامي امارت د ټکنالوژۍ د فرهنګ د دودېدو په موخه په لومړي ځل په هېواد کې د مخابراتو او ټکنالوژۍ ندارتون جوړ کړ. اسلامي امارت هڅه کوي چې د همدې ندارتون له لارې ونښيي چې غواړي په مخابراتي او ټکنالوژيکي برخه کې ترسره شوي پرمختګونه هېوادوالو ته وړاندې کړي. تر دې مهاله اسلامي امارت د مخابراتو او ټکنالوژۍ په برخه کې پرمختګونه کړي چې ښې بېلګې يې له مخابراتي خدمتونو څخه بې برخو سيمو ته د مخابراتي خدمتونو رسول دي. دغه راز د اسلامي امارت له لوري په برېښنايي حکومتولۍ کې هم مهم پرمختګونه شوي چې ښه بېلګه يې څه موده وړاندې د امارتي ادارو له پاره د رسمي اسنادو جوړ شوي سيستم تطبيق و. خلاصه دا چې اسلامي امارت د ټکنالوژۍ پراختيا او پرمختګ ته ژمن دی او هڅه کوي چې په بېلا بېلو سکتورونو کې له نوي ټکنالوژۍ ګټه پورته کړي. په همدې برخه کې ځوان استعدادونه وروزي، افغانستان له نړۍ سره سيال او پر مټ يې د هېواد اقتصاد غښتلی او پر خپلو پښو ودروي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له ښاغلي جمشيد خواجه‌یف سره وليدل



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ کال د اسد مياشتې په ځلورمه نېټه د ارګ په چهارچنار ماڼۍ کې د ازبيکستان د لومړي وزير له مرستيال ښاغلي جمشيد خواجه‌یف او مل پلاوي سره وليدل. د دې ليدنې پرمهال د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي، سوداګريزو، پانګونې او ترانزيټي همکاريو د پراختيا په اړه خبرې وشوې. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د کابل او تاشکند ترمنځ د اړيکو پراختيا او ثبات، د دواړو هېوادونو د اقتصادي ګټو ترڅنګ د سيمه‌ييز ثبات لپاره هم ګټور وبلل او زياته يې کړه، د افغانستان اسلامي امارت چمتو دی چې له ټولو شته ظرفيتونو په استفادې دا اړيکې لا پياوړې او پراخې کړي. محترم ملا صاحب د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګډ عمل پلان پر لا ښه تطبيق ټينګار وکړ او ويې ويل چې دا د دواړو لورو د اقتصادي ودې په برخه کې مهم رول لوبوي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د کابل او تاشکند تر منځ د سوداګريزو، اقتصادي او ترانزيټي همکاريو د تسهيل او پراختيا لپاره ازبيکستان ته له افغانستان څخه د صادراتي توکو د لېږدوونکو وسايطو د تګ راتګ پر وړاندې د شته خنډونو لرې کول؛ له چين، منځنۍ اسيا او روسيې څخه راتلونکو افغاني ترانزيټي مالونو ته د معافيت ورکول؛ د منځنۍ آسيا، روسيې او چين بازارونو ته د افغانستان د زراعتي محصولاتو، وچو او تازه مېوو، خوراکي توکو، قيمتي معدني موادو د صادراتو په برخه کې د ازبيکستان له لوري د اسانتياوو رامنځته کول؛ د ترانزيټي زېربناوو د ظرفيت لوړول؛ د ګمرکونو پراختيا؛ افغانانو ته د ويزې ورکړې اسانه کول او د انرژۍ او مشترکو زېربناوو په برخه کې همکاري مهمه وبلله. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال وويل، موږ باور لرو چې د افغانستان او ازبيکستان ترمنځ پراخې همکارۍ نه يوازې دوه اړخيزې اقتصادي اړيکې لوړې کچې ته رسوي؛ بلکې دا به په سيمه کې د نورو ګاونډيو هېوادونو لپاره د ښه ګاونډيتوب يوه غوره بېلګه هم واوسي. ورپسې د ازبيکستان د لومړي وزير مرستيال ښاغلي جمشيد خواجه‌یف خبرې وکړې. هغه وويل، د ازبيکستان او افغانستان سوداګري د تېر په پرتله د پام وړ زياته شوې چې اوسنۍ کچه يې ۱.٦ ميليارد ډالرو ته رسېږي. هغه زياته کړه، چمتو دي چې په افغانستان کې د ازبيک پانګوالو له لوري د پيل شوو پروژو چارې لا چټکې، ستونزې يې حل او هغه نوې پروژې پيل کړي، چې د دواړو هېوادونو د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره مهمې بلل کېږي. هغه همدارنګه وويل، چمتو دي چې په افغانستان کې په بېلابېلو کانونو کې پانګونه وکړي او پر دې سربېره له افغانستان څخه د غوښې او پنبې واردات هم زيات کړي. د هغه په خبره، ازبيک لوری چمتو دی چې د زينک ډبرو د پروسس لپاره په حيرتان کې د ۵۰ ميليون ډالرو په ارزښت فابريکه هم جوړه کړي. ښاغلي جواجه‌یف د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال سره خبرو کې زياته کړه، د ترانسپورټ او انرژۍ، کرنې پراختيا، بانکي چارو، سوداګرۍ او اقتصادي اړيکو د زياتوالي او همداراز په مختلفو برخو کې به د افغانانو د ظرفيت لوړونې په موخه راغلي ازبيک مسوولين د اسلامي امارت له اړوندو ادارو سره ګډ کار وکړي.

## د سوداګرۍ پراختيا لپاره د شيرخان بندر ظرفيت لوړېږي

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ لمريز کال د اسد مياشتې په شپږمه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت له لوري د شيرخان بندر له لارې له تاجکستان، قرغزستان او چين سره د سوداګرۍ پراختيا په موخه يوشمېر وړانديزونه وړاندې او له بحث وروسته تاييد شول. د دې وړانديزونو له مخې به د ماليې، کورنيو چارو او نور ښکېل وزارتونه او ادارې په شيرخان بندر کې لازمې زېربناوې ايجاد او شته زيربناوو ته به پراختيا ورکړي. همداراز به له تاجکستان سره په همغږۍ د دغه بندر په کاري ساعتونو کې زياتوالی راولي، څو زيات شمېر ترانسپورټي موټرو ته د تګ راتګ زمينه برابره شي. همدا ډول ماليې وزارت ته هدايت وشو، څو په شيرخان بندر کې د ګمرک، ګودامونو، تخليې او بارګيرۍ خدماتو د وړاندې کولو په موخه د لوجستيکي مرکز د جوړولو لپاره بوديجه ځانګړې او دغه مرکز جوړ کړي.
په غونډه کې ټولګټو وزارت ته هم هدايت وشو، څو د کټای دهليز د فعالولو لپاره، چې د ايکو اقتصادي همکاريو سازمان په واسطه د ايران – افغانستان – تاجکستان او قرغزستان ترمنځ رامنځته شوی، د افغانستان په خاوره کې د اړتيا وړ ريلي تاسيسات جوړ کړي. همدا ډول په غونډه کې پرېکړه وشوه څو امارتي شرکتونه خپله داغمه اوسپنه ملي پراختيا شرکت ته وسپاري او دغه شرکت يې د

پروســس له لارې توليد کېدونکی پــه معيارونو برابر ګول سـيخ په لويو امارتي پروژو کــې وکاروي. په غونډه کې د معيار او کيفيت اداري له لوري وړاندې شوي ۳۷ معيارونه او ۱۲ د ازمايښت طريقې هم تاييد شوې. دغه معيارونه او د ازمايښــت طريقې د کرنيــزو محصولاتو، خوراکي توکو، درملو، ســاختماني موادو، مخابراتو او الکتريک، کيميا او پلاستيک، روغتيايي سامان‌الاتو او يوشمېر نورو برخو اړوند دي، چې د هېواد اوسني وضعيت او نړيوالو معيارونو په پام کــې نيولو سره جوړ شــوي دي. د غونــډې په پای کې د يوشمېر تعقيبي موضوعاتو راپورونه هم وړاندې او په اړه يې اړوندو ادارو ته لازمي لارښوونې وشوې.

پورته پرېکړې د نهايي تصميــم نيونې په موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه‌الله دفتر ته واستول شوې.



## عزيزي انرژۍ شرکت د لس زره مېګاواټه برېښنا د توليد لپاره ټول تخنيکي وسايل پېرلي

د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ لمريز کال د سرطان مياشتې په ۳۰مه نېټــه په خپل کاري دفتر کې د هېواد له ملي ســوداګر او پانګوال ښاغلي ميرويس عزيزي او د هغه له تخنيکي ټيم سره وکتل.

د عزيزي انرژۍ پانګونــې شرکت عمومي رييس ميرويس عزيزي وويل، د لس زره مېګاواټه برېښنا د توليد لپاره يې ټول تخنيکي وســايل پېرلي چې ژر به يې هېواد ته د لېږد چارې پيل کړي. هغه زياته کړه، په نږدې وخت کې به په هېواد کې د سرطــاني ناروغيو د درملنې لــوی روغتون د جوړولو کارونه هم پيل کړي.

وروســې د رياســت‌الوزراء اقتصادي معاونيت په مشرۍ د اړونــدو امارتي ادارو او عزيزي انــرژۍ پانګونې شرکت له استازو څخه جوړې شوې تخنيکي کمېټې خپل راپور وړاندې کړ. د راپور له مخې، د کابل ولايت په نغلو ســيمه کــې د ۱۰۰ مېګاواټه لمريزې برېښــنا، د پروان ولايت په باريک‌اب ســيمه کې د ۱۰۰ مېګاواټه لمريزې برېښنا او په غزني ولايت کې د ۱۳۱ مېګاواټه لمريزې برېښــنا پروژو د امکان سنجۍ مطالعات بشپړ او د برېښنا د پېر تړونونه يې لاسليک شوي. کمېټې په خپل راپور کې زياته کړه چې په ســاحو کې عملاً د پــروژو چارې پيل شــوې دي. د دې ترڅنګ، په تخار ولايت کې له ډبرو ســکرو څخه د ۱۶۵ مېګاواټه برېښنا، په بغلان ولايت کې له ډبرو سکرو څخه د ۳۵۰ مېګاواټه برېښــنا، د نغلو او غزني سب‌سټېشــنونو جوړولو او د کابل ولايت له ترەخېل سيمې څخه تر صنايع ســبز پورې د انتقــالي لين غځولــو پروژو پــر تخنيکي موضوعاتو بحثونه جريان لري، چې ژر به نهايي شي. دې کمېټــې د کارونو د چټکتيا په موخــه خپل وړانديزونه هم شريک کړل. د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرستيال د دې کمېټې د لاســته راوړنو ستاينه وکړه او اړوندو امارتي ادارو ته يې د کارونو د لا چټکتيا په موخه لازمي لارښوونې وکړې او سپارښتنه يې وکړه چې د دوه اوونيو په جريان کې دې په يو شــمېر برخو کــې پاتې کارونه بشــپړ او راپــور دې د اقتصــادي معاونيت له مقام سره شريک کړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د عزيزي انرژۍ پانګونې شرکت ته د پوره همکــارۍ ډاډ ورکړ او ترې ويې غوښــتل چې خپل کارونه په ښه ډول او ټاکلي وخت بشپړ کړي



## تداركاتو کمېسيون د شاوخوا ۱.۳ ميليارد افغانيو په ارزښت ۱۳ پروژې منظورې کړې

د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د تداركاتو کمېسيون نوبتي غونډه ۱۴۰۵ لمريز کال د اسد مياشتې په لومړۍ نېټه په مرمرينه مانۍ کې جوړه شوه. غونډې ته له اجندا سره سم ۳۴ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې. له بحث وروسته د ۱.۳ ميليارد افغانيو په ارزښت ۱۳ پروژې منظورې شوې او په ۱۶ پروژو کې يولړ تعديلونه راغلل. همداراز د يوې پروژې قرارداد لغوه او د څلورو پروژو د تداركاتي پروسو او قيمتونو په اړه ټاکلو شويو کمېټو ته دندې وسپارل شوې، څو يې هراړخيزه څېړنه ترسره او راپور يې د تداركاتو کمېسيون مشرتابه ته وړاندې کړي. په منظور شويو او تعديل شويو پروژو کې د پکتيا ولايت په جاني‌خيلو ولسوالۍ کې د روغتون جوړولو، په ځينو ولايتونو کې د مخابراتي خدمتونو وړاندې کولو او د برېښنا د توزيع او انتقال او همداراز د کابل ښار د يوشمېر داخلي سړکونو جوړول او د پاتې چارو بشپړول شامل دي.

منظورې شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمويلېږي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ د نندارتون پرانيسته وکړه




د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ کال د اسد مياشتې په څلورمه نېټه د افغانستان نړيوال نندارتون مرکز کې د مخابراتو او ټيکنالوژۍ په برخه کې د لومړني جوړ شوي نندارتون پرانيسته وکړه. د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال په لومړي سر کې په هېواد کې د وروستيو سيلابونو له امله د هېواد په مختلفو سيمو، په ځانګړې ډول نورستان ولايت کې زيانمنو شويو هېوادوالو ته تسليت ووايه، شهيدانو ته يې جنت‌الفردوس او ټپيانو ته يې د عاجلې روغتيا دعا وکړه. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل چې په اوسني عصر کې د ټکنالوژۍ پرمختګ او د اړيکو د ټينګولو وسايل د هېوادونو د مهمو لومړيتوبونو په سر کې قرار لري او دې پرمختګ د نړۍ د سيالۍ ډګر ګرم ساتلی دی. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، د عصر د غوښتنې مطابق د ټکنالوژۍ او مخابراتو په برخه کې پرمختګ کول زموږ ستر مسووليت دی او د افغانستان اسلامي امارت غواړي چې په تدريجي توګه له خپلو موجوده امکاناتو څخه په ګټه اخيستنې ځان په دې برخه کې له سيمې او نړۍ سره سيال کړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په دې برخه کې د سيمې د اتصالي نقطې په توګه د هېواد د جغرافيوي موقعيت مهم وباله او ويې ويل، «افغانستان کولی شي جنوبي اسيا له منځنۍ اسيا سره د ډېټا د ترانزيټ په برخه کې وصل کړي.» محترم ملا صاحب وويل، د اسلامي امارت په بياځلي حاکميت سره افغانستان د مخابراتو او ټکنالوژۍ په برخه کې پرمختګونه کړي، ډېرې محرومې سيمې تر مخابراتي پوښښ لاندې راغلې، په ډيجيټلي حکومتولۍ کې مهم پرمختګونه شوي، چې بېلګه يې څه موده وړاندې د اماراتي ادارو لپاره د رسمي اسنادو جوړ شوي سيستم تطبيق دی. د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال د ټکنالوژۍ د فرهنګ د ترويج او بهبود په برخه کې د دې نندارتون جوړېدل مهم وبلل او زياته يې کړه چې د ټکنالوژۍ په پرمختګ سره په کارونو کې شفافيت، د عوايدو سم مديريت، د وخت سپما، د پروسو اسانتيا او په چارو کې د خطا کمول تضمينوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، له نړۍ سره د سيالۍ او مساوي پرمختګ لپاره اړينه ده چې د ژوند په هره برخه کې د پرمختللې ټکنالوژۍ له صنعت څخه استفاده وکړو او زياته يې کړه «دا مسووليت هم شرعا او هم اخلاقا موږ او تاسې ته راجع دی چې ځانونه له نړۍ سره سيالان کړو.»

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال دغه نندارتون د افغان ځوانانو د استعدادونو د ودې، د دوی له نوښتونو څخه د ملاتړ او د تخنيکي پروګرامونو له لارې د هېواد د مبتکر نسل لپاره اړين وباله او هيله يې څرګنده کړه، چې د داسې نندارتونونو په اساس به د اسلامي امارت، خصوصي سکتور، علمي بنسټونو او نوښتګرو ځوانانو ترمنځ همکاري زياته او ګران هېواد به د ټکنالوژۍ او ډيجيټلي پرمختګ په ډګر کې نور هم مخکې ولاړ شي.

په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په هېواد کې د بې‌کارۍ ستونزو حل په برخه کې هېوادوالو ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت په ټول توان هڅه کوي، چې په هېواد کې دننه هېوادوالو ته د کار زمينه برابره کړي.

محترم ملا صاحب وويل، په همدې موخه اسلامي امارت په مختلفو سکتورونو کې لويې پراختيايي پروژې پيل کړې دي، سوداګرۍ وده کړې او د خصوصي سکتور د فعاليتونو د اسانتيا لپاره مالياتي تخفيفونه ورکړل شوي، چې ډېرو هېوادوالو ته يې د کار زمينه برابره شوې، خو په خبره يې، د بې‌کارۍ کچې کمولو په موخه لا نورو هڅو ته اړتيا ده.

## د پانګونې بین‌الوزارتي کمیټې غونډه جوړه شوه

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ لمریز کال د سرطان په ۳۰ مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د خصوصي سکټور له لوري د هېواد په شپږو ولایتونو (ارزګان، دایکندي، غور، زابل،



پکتیکا او فراه) کې د لمریزې برېښنا د تولید طرحه د بحث له پاره وړاندې شوه. له هر اړخیز بحث وروسته پرېکړه وشوه، چې د افغانستان برېښنا شرکت دې د یوې میاشتې په جریان کې یاده طرحه له اړوند شرکت سره په هر اړخیز ډول وڅېړي او خپل راپور دې د پانګونې بین‌الوزارتي کمیټې ته وړاندې کړي. غونډې ته د خصوصي سکټور له لوري د مزارشریف د نایب اباد سب سټیشن د پراختیا او لوژستیکي مرکز د جوړولو په تړاو د وړاندې شوي طرحې په اړه د ټولګټو وزارت راپور هم وړاندې شو. له بحث وروسته پرېکړه وشوه چې د ښکېلو ادارو له خوا دې وړاندې شوي طرحه په مقایسوي ډول وارزول شي او پایله دې د پانګونې بین‌الوزارتي کمیټې سره شریکه شي.

## یک میلیون تن از هموطنان کشور در صنعت قالین‌بافی مصروف کار اند

امارت اسلامی افغانستان به صنایع دستی، به‌خصوص صنعت قالین‌بافی، توجه خاص کرده است. در چهار سال گذشته، این صنعت نسبت به گذشته رشد بیشتر داشته و میزان صادرات آن به بازارهای خارجی به‌گونه چشمگیر افزایش یافته است. در حال حاضر، حدود یک میلیون تن از هموطنان کشور به‌گونه مستقیم و غیرمستقیم در صنعت قالین‌بافی مصروف کار اند. هموطنان از این وضعیت ابراز خرسندی می‌کنند، که می‌توانند نیازهای زندگی خود را در داخل کشور به‌خوبی تأمین نمایند. تمام مواد اولیه مورد نیاز برای قالین‌بافی از جمله رنگ، تار و مواد بسته‌بندی و



سایر مواد لازم ، در داخل کشور بدست آمده میتواند، بخشی از قالین‌های تولیدشده در بازارهای داخلی به فروش می‌رسد، اما بخش عمده آن به بازارهای خارجی صادر می‌شود. بر اساس ارقام رسمی، در سال ۱۴۴۷ قمری، بیش از ۷۶۰ هزار متر مربع قالین به کشورهای روسیه، ایالات متحده امریکا، استرالیا، کشورهای اروپایی، کانادا، ترکیه و نیز شماری از کشورهای عربی و افریقایی صادر شده است. ارزش قالین صادرشده در سال گذشته به ۱۴ میلیون دالر امریکایی می‌رسید که در مقایسه با گذشته افزایش را نشان می‌دهد. هموطنان مشغول در این صنعت از حمایت امارت اسلامی ابراز خوشی می‌کنند. امارت اسلامی تعرفه واردات قالین‌ها و فرش‌های مشابه خارجی را افزایش داده، مالیات بر مواد اولیه را به‌گونه قابل ملاحظه کاهش داده و به‌منظور بازاریابی برای قالین‌های افغانی، نمایشگاه‌هایی را در داخل کشور و نیز در شماری از کشورهای خارجی از جمله چین، ازبیکستان، هند، ترکمنستان، بنگله دیش، ایران و آذربایجان برگزار کرده است. به گفته هموطنان، قالین‌های تولیدشده در افغانستان اکنون با نام و نشان افغانستان به بازارهای خارجی صادر می‌شوند و به دلیل کیفیت بالا و طرح‌های زیبا، شهرت جهانی بیشتری کسب کرده اند.

## کار ترمیم شفاخانه الشفاء ۶۰ درصد تکمیل شده است

کار اعمار بخش های جدید شـفاخانه الشفاء و بازسازی برخـی بخـش ها بـا در نظر داشـت تمـام معیارهای سـاختمانی و طبی توسط شرکت انکشـاف ملی تکمیل گردیده و کار باقی مانده تا پایان سال ۱۴۰۵ تکمیل خواهد شـد. این کارها شامل بازسازی اساسی ساختمان های کهنه و معیاری سـاختن آنهـا، اعمار تعمیر جدید شـش طبقه سراپـا، اعمار سـاختمان دو طبقـه جدید اکسیجن، نصب سیستم کاملا جدید هوا طبی و واکیوم،



نصب سیسـتم تهویـه مطابق معیارهـای جدید صحی، اکسـیجن طبـی، اعمار پارکینگ جدید بـرای موترها، مسجد، جاده‌ها، ساحات سبز و برخی پروژه‌های کوچک دیگر می‌باشـد. اعمار بخش‌های جدید شفاخانه الشفا و ترمیم اساسـی سـاختمان‌های کهنه ۱.۴ میلیارد افغانی هزینه بر می دارد که از بودجه امارت اسلامی افغانسـتان پرداخت می شـود. این شـفاخانه پس از تکمیل، برای صدها تن از شـهروندان خدمات روزانه را در بخش های جراحـی قلب، پیوند کلیـه، همودیالیز، تداوی سرطان، جراحی عمومی، بخش های داخله و صدری، بخش های مراقبـت های ویژه، بخـش های عاجـل، لابراتوارها، کلینیک ها و تعدادی از بخش ها، مطابق معیارهای طبی ارائـه خواهند کرد. امارت اسلامی افغانسـتان علاوه بر فراهم ساختن سـهولت برای شـهروندان خود در سایر عرصـه های زندگی، متعهد به عرضه خدمات باکیفیت در عرصه صحت می باشـد. به همین منظور، سعی و تلاش می کند تا شفاخانه‌های جدید عمومی را در بیش از ۳۰۰ ولسـوالی کشـور احداث نماید و همچنان شفاخانه‌های مهم و بزرگ را دوباره احیا و معیاری سازند.



# تخـفیف‌هـای مالیاتـی؛
## نوید تازه برای تاجران و سرمایه‌گذاران

نجیب‌الله

### مقدمه

امارت اسلامی افغانسـتان در ادامه مساعد نمودن تسهیلا بیشتر برای صنعت و تجارت، بسته جدیدی از تخفیف‌های مالیاتی را در چهار بخش اعلام کرده است. این تخفیف‌ها بـه هدایـت عالیقـدر امیرالمؤمنین حفـظ اللـه تعالی برای حمایـت از تاجـران و سرمایه‌گذاران در نظر گرفته شـده و شامل تسهیلات و امتیازات بیشتری برای فعالیت‌های تجارتی و اقتصادی می‌شود. بر اساس این بسته، مالیات بر عواید شرکت‌ها و مراکز صحی خصوصی از ۲۰ فیصد به ۱۰ فیصد کاهش یافته، حد معافیت مالیاتی اشـخاص حقیقی از ۶۰ هـزار افغانـی به ۱۲۰ هـزار افغانـی افزایش یافته و مالیـات انتقال اموال نیز از یک فیصد به نیم فیصد کاهش یافته است. در اینجا، به‌گونه مختصر به تخفیف‌های جدید وزارت مالیه و مزایای آن پرداخته می‌شود.

### تخفیف‌های جدید مالیاتی

بر اساس هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله تعالی، مؤرخ ۱۴۴۸/۱/۱۴ هجری قمری، تخفیف‌های جدید مالیاتی در بخش‌های شرکت‌ها، اشـخاص حقیقی، انتقال اموال منقول و غیرمنقول و همچنان فروش تیل و گاز منظور شـده اسـت. مطابق این هدایت، به اسـتثنای شرکت‌های استخراج معادن، تمامی اشخاص حقوقی، از جمله

شرکت‌ها و مراکز صحی خصوصی، پس از اعلام این بسته، به‌جای ۲۰ فیصد، ۱۰ فیصد مالیات بر عواید پرداخت خواهند کرد. همچنین، بر اساس تخفیف‌های منظور شده، پیش از این اشخاصی که عاید سالانه آنان تا ۶۰ هزار افغانی بود، از پرداخت مالیات معاف بودند، اما اکنون این سقف دو برابر شده و افرادی که عاید سالانه آنان تا ۱۲۰ هزار افغانی باشد، از پرداخت مالیات معاف هستند. علاوه بر این، اشخاصی که عاید سالانه آنان از ۱۲۰ هزار تا یک میلیون و ۲۰۰ هزار افغانی باشد، ۱۰فیصد مالیات پرداخت می‌کنند و کسانی که عاید سالانه‌شان بیش از یک میلیون و ۲۰۰ هزار افغانی باشد، مکلف به پرداخت ۱۵ فیصد مالیات هستند. بر اساس تخفیف‌های منظورشده از سوی عالیقدر امیرالمؤمنین، مالیات انتقال اموال منقول و غیرمنقول نیز از یک فیصد به ۰,۵ فیصد کاهش یافته است؛ یعنی در حالی که پیش از این یک فیصد مالیات اخذ می‌شد، از این پس این میزان به نیم فیصد کاهش یافته است. همچنان، عمده‌فروشان تیل و گاز که این مواد را در ذخیره‌گاه‌های خود نگهداری کرده و به‌صورت عمده بر اساس تُن به فروش می‌رسانند، مکلف‌اند فی تُن، ۵۰ افغانی مالیات ثابت پرداخت کنند و اشخاصی که دفتر یا ذخیره‌گاه مخصوص تیل و گاز ندارند، اما تیل و گاز را به‌صورت کمیشن‌کاری به فروش می‌رسانند، مکلف‌اند مالیات ثابت سالانه را مطابق درجات زیر بپردازند:

- فروشندگان درجه اول تیل و گاز به‌صورت کمیشن: ۱۰۰ هزار افغانی در سال؛
- فروشندگان درجه دوم تیل و گاز به‌صورت کمیشن: ۷۰ هزار افغانی در سال؛
- فروشندگان درجه سوم تیل و گاز به‌صورت کمیشن: ۵۰ هزار افغانی در سال؛
- فروشندگان درجه چهارم تیل و گاز به‌صورت کمیشن: ۲۵ هزار افغانی در سال.

بر اساس تخفیف‌های جدید، اشخاصی که تیل و گاز را به‌صورت تُن خریداری و به‌صورت کیلوگرام به فروش می‌رسانند، از جمله سیکوها و سایر فروشندگان مشابه، مکلف‌اند فی تُن، ۸۰ افغانی مالیات پرداخت نمایند. هدف از این تخفیف‌ها و تسهیلات آن است که هموطنان بتوانند مکلفیت‌های مالیاتی خود را به‌سادگی و در زمان معین انجام دهند. نهادهای مربوط امارت اسلامی، در کنار جمع‌آوری عواید، مدیریت مؤثر منابع مالی عامه و حفظ ثبات اقتصادی، بر تطبیق آن سیاست‌های مالی تمرکز دارند که زمینه رشد پایدار اقتصادی و جذب سرمایه‌گذاری را مساعد سازد.

## ارزش اقتصادی تخفیف‌های مالیاتی جدید

تخفیف‌های مالیاتی جدید که به هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی منظور شده‌اند، تنها یک تسهیل اداری نیستند، بلکه یکی از وسایل مهم سیاست اقتصادی به شمار می‌روند که می‌توانند زمینه تشویق سرمایه‌گذاری، افزایش تولید و صادرات و ایجاد فرصت‌های جدید کاری را مساعد سازند. این سومین بار است که به هدایت عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی تخفیف‌های خاص مالیاتی منظور می‌شود و هدف از آن، فراهم‌سازی تسهیلات بیشتر برای هموطنان و تجار است. کاهش مالیات، هزینه‌های تولید و تجارت را کاهش می‌دهد و در نتیجه، می‌تواند به کاهش قیمت‌ها نیز کمک کند. تخفیف‌های مالیاتی در واقع نوعی حمایت از سکتور خصوصی و تولید داخلی است که زمینه رشد صنعت، افزایش سرمایه‌گذاری و توسعه فعالیت‌های اقتصادی را مساعد می‌سازد. در پنج سال گذشته، با روی‌کار آمدن امارت اسلامی افغانستان، به‌منظور ایجاد تسهیلات بیشتر برای تاجران و کاهش مشکلات مالیه‌دهندگان، ۱۳ نوع معافیت و تخفیف مالیاتی وضع شده است. با وجود برخی مشکلات، ایجاد تخفیف‌های مالیاتی و سایر تسهیلات اقتصادی سبب شده است که تجارت کشور رشد کند. بر اساس معلومات اداره عواید و گمرکات، با وجود بسته بودن برخی مسیرهای تجارتی، حجم تجارت افغانستان در سال گذشته پنج فیصد افزایش یافته است. در کشورهایی که فعالیت‌های اقتصادی با مشکلات روبه‌رو می‌باشند، کاهش یا تخفیف مالیات می‌تواند زمینه مناسب‌تری را برای فعالیت تاجران و سرمایه‌گذاران مساعد سازد. این تخفیف‌ها هزینه‌های شرکت‌های تولیدی و سکتور خصوصی را کاهش می‌دهد و در نتیجه، سطح تولید افزایش می‌یابد، فرصت‌های جدید کاری ایجاد می‌شود و توان رقابتی تولیدات داخلی نیز تقویت می‌گردد. همچنین، این اقدام می‌تواند سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی را به سرمایه‌گذاری در بخش‌های مختلف اقتصادی تشویق نمایند. در درازمدت، گسترش فعالیت‌های اقتصادی، افزایش شمار شرکت‌ها و توسعه نهادهای مالیاتی، موجب افزایش دوباره عواید حکومت خواهد شد. از همین‌رو، کارشناسان اقتصادی



تخفیف‌هـای مالیاتـی را یکـی از سیاسـت‌های مؤثـر اقتصادی بـرای تحقق رشـد پایدار، حمایت از سـکتور خصوصی و جذب سرمایه‌گـذاری می‌دانند. تخفیف‌های مالیاتـی، همـراه بـا مسـاعد بـودن فضـای مناسـب سرمایه‌گذاری، اطمینان حقوقی و نظام اداری شفاف که امارت اسلامی ایجاد کرده اسـت، می‌تواند نقش مهمی در تقویـت اقتصاد کشـور، کاهـش بیـکاری و افزایش عواید عمومی ایفا کند.

## نتیجه گیری

در مجمـوع، اعلام تخفیف‌های مالیاتی از سـوی امارت اسلامـی، یـک اقدام مهـم اقتصـادی در زمینه توسـعه فعالیت‌هـای اقتصـادی، حمایت از سـکتور خصوصی و تشـویق سرمایه‌گذاری در کشـور به شمار می‌رود. انتظار مـی‌رود که با تطبیق این تخفیف‌ها، سـطح تولید افزایش یابد، فرصت‌های کاری بیشتری ایجاد شود، فعالیت‌های تجارتی گسترش پیدا کند و پروسـه رشـد اقتصادی کشور بیـش از پیش تقویت گردد. به همین ترتیب، تخفیف‌های مالیاتی نه تنها زمینه رشـد و توسعه سکتور خصوصی را مسـاعد می‌سـازد، بلکه در طویـل المـدت می‌تواند نقش مؤثـری در تأمین ثبات اقتصـادی، افزایش تولید، تقویت سرمایه‌گذاری و تحقق توسعه پایدار اقتصادی ایفا نمایند.



# د بهرنیو اسعارو بیې

د کابــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکايي ډالر | ۶۵,۹۰؋ | ۶۵,۹۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲۲۹؋ | ۲۳۰؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۰,۳۴؋ | ۰,۳۵؋ |
| ۱ | اروپايي یورو | ۷۵,۰۰؋ | ۷۵,۲۰؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۸۳؋ | ۰,۸۳؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۷۴۷؋ | ۷۴۸؋ |
| ۱ | انگلیسي پونډ | ۸۶,۴۰؋ | ۸۶,۶۰؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۷,۵۵؋ | ۱۷,۵۷؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۷,۹۴؋ | ۱۷,۹۶؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۷۳؋ | ۹,۷۴؋ |

